# زما معلومات څنګه ساتل کیږي

## ستاسې په اړه کوم معلومات ساتو او ولې؟

EACH د هغو ماشومانو او نویو ځوانانو الیکترونیکي او کاغذي روغتیایي معلومات ساتي، چې زموږ له پاملرنې او ملاتړه برخمن دي. موږ همداراز د کورنۍ د هغو غړو، په شمول د ورونو او خویندو، الیکترونیکي روغتیایي اسناد ساتو، چې زموږ له کوم مشاور یا روغتیاپال څخه د سلامتیا یا رواني روغتیا اړوند مرسته تر لاسه کوي. دا ځکه چې موږ د قانون د حکم پر اساس مکلف یو، چې د ټولو کوچنیانو او لویانو روغتیایي اسناد وساتو، چې موږ ئې په انفرادي توګه پالنه او تداوي کوو.

د ناروغ اړوندو معلوماتو او ډاټا کې کېدای شي شخصي معلومات (لکه نوم، ادرس، د اړیکو معلومات، د زوکړې نیټه او سرپرستان) او همداراز ستاسې د ماشوم یا ستاسې د روغتیا او سلامتیا اړوند معلومات شامل وي. په دې کې هغه معلومات هم شامل دي، چې د روغتیایي او ټولنیزو خدماتو په څېر ستاسې په مراقبت کې له شاملو ادارو څخه تر لاسه کیږي.

دغه معلومات د پنځو کلیدي موخو لپاره کاروو:

- د تداوۍ او پالنې لپاره
- د کیفیت او حساب ورکولو د مکلفیتونو لپاره
- د ماشومانو او نویو ځوانانو او کورنیو لپاره د پاملرنې خدماتو د بهترۍ لپاره
- د کورنیو د اړتیاوو او د EACH خدماتو په اړه د پوهاوي زیاتولو لپاره
- د مالي سرچینو د ملاتړ لپاره.

که چیرې معلومات له درملنې او پاملرنې پرته د بلې هرې موخې لپاره کارول کیږي، نو معلومات به تر کارولو وړاندې د معلوماتو کمیشنر دفتر د کاري لاربښود سره سم بېنومه او بېهویته شي: https://ico.org.uk/media/1061/anonymisation-code.pdf

ځینې وختونه موږ کېدای شي د ناروغ د پېژندګلوۍ وړ معلومات د روزنې، د کورنۍ د اړتیاوو یا د خپلو خدماتو اړوند د عامه پوهاوي، مالي ملاتړ یا هم د پروژو او تحقیق لپاره وکاروو. نو په دې کې زموږ د سرویس کارولو په اړه ستاسې او ستاسې د کورنۍ تجربې، کیسې، انځورونه، تصویري یا ږغیز ثبتونه شاملیدای شي. په دغه ډول ستاسې د معلوماتو تر کارولو وړاندې به همېشه ستاسې اجازه غواړو. تاسې حق لرئ دا غوښتنه رد کړئ یا خپل نظر هرکله چې وغواړئ بدل کړئ. دا به تاسې ته پر چمتو کېدونکو خدماتو هیڅ اغیز ونکړي.

## زمو[illegible]ي مکلفیتونه

EACH مکلف دی، چې د ۲۰۱۸ میلادي کال د معلوماتو د خوندیتوب قانون او د ملي معلوماتو Opt- Out پروګرام او نورو قوانینو په رڼا کې عمل وکړي، چې له مخې یې تاسې او کورنۍ ته مو ګڼ حقوق درکړل شوي دي.

د EACH ټول کارکوونکي او رضاکاران د محرمیت ساتلو قانوني مسؤلیت لري. ستاسې د معلوماتو د خوندیتوب او ساتنې اړوند داړ لپاره EACH د NHS د ډیجیټلي معلوماتو د خوندیتوب او ساتنې وسیلې او د NHS او NICE له یو لړ لارښودونو سره سم عمل کوي.

د معلوماتو د خوندیتوب قانون ((DPA، موږ مکلف یو چې ددغه قانون له عملي کېدو ډاډ تر لاسه کړو. چې له لاندې مواردو عبارت دي:

- معلومات په قانوني، منصفانه او شفافه توګه پروسیس شي
- د ټاکل شوي، شفافې او مشروع موخو لپاره د یوه قانوني ادرس لخوا طی مراحل شي
- معلومات باید محدود، له اصلي موخې سره تړاو لرونکي او ضروري و اوسي
- معلومات دقیق او د اړتیا په صورت کې تازه و اوسي
- معلومات یوازې د اړتیا وړ مودې لپاره وساتل شي
- معلومات په خوندي توګه وساتل شي او غیرمجاز لاسونه ورته لاسرسی ونلري.

لا زیات معلومات د بریتانیا د عمومي معلوماتو د خوندیتوب لارښود (UK GDPR) کې لوستلی شئ: ICO The National Data Opt-Out Programme

۱۳ کلن او تر هغه پورته ټول کسان چې د NHS شمیره ولري، کولئ شي له opt out څخه ګټه واخلي، یعني له درملیزو موخو پرته د بلې هرې موخې لپاره د خپلو معلوماتو له کارولو انکار وکړي. تر ۱۳ کلنی د کمعمره ماشومانو په استازولی د هغوی سرپرست کولئ شئ د انصراف حق وکاروي. که غواړئ منصرف شئ یا په دې اړه نور معلومات تر لاسه کړئ، نو هیله ده دغه پاڼې ته ورشئ https://digital.nhs.uk/services/national-data-opt-out-programme

## څنګه کولئ شئ خپل یا د خپل ماشوم روغتیايي سوابق وګورئ؟

تاسي یا ستاسي کوم ټاکل شوی استازی کولئ شئ خپلو معلوماتو د لاسرسي غوښتنه وکړئ او دغه ډول غوښتنه د لیک یا بریښنالیک له لارې په سیمه‌ییز هاسپیس کې د EACH د خدماتو مدیر ته ولیږل شي. که غوښتنه د کوم ټاکل شوي استازي لخوا کیږي، نو موږ به هغوی ته د معلوماتو تر ورکړې وړاندې ستاسي اجازه اخلو.

د EACH د خدماتو به:

- معلوماتو ته ستاسي د لاسرسي غوښتنه سنبال کړي
- د اړتیا په صورت کې ستاسي څخه نور معلومات وغواړي
- له ترلاسه کېدو وروسته د ۲۱ ورځو په دننه کې ستاسي غوښتنه پوره کړي.

معلومات به تاسې ته د پوست، بریښنالیک له لارې ولیږل شي

یا به یو خوندي cloud ته اپلوډ شي څو تاسې ئې وروسته ډانلوډ کړای شئ.

که ستاسې ماشوم ۱۶ کلن یا تر هغه زیات وي، نو موږ به ستاسې سره د دوی معلوماتو تر شریکولو وړاندې له دوی څخه اجازه واخلو څو تاسې سوابقو ته لاسرسی ولرئ.

## د معلوماتو کارولو څرنګوالی

- **د درملنې او پاملرنې لپاره**

ټول معلومات د قانون د حکم په رڼا کې راټولیږي، کارول کیږي، ساتل کیږي او په پای کې له منځه وړل کیږي. معلومات ستاسې یا ستاسې د ماشوم د درملنې او پاملرنې د چمتو کېدو او همږغۍ لپاره کارول کیږي.

موږ دغه معلومات د SystmOne په نوم سیستم کې ساتو - د پاملرنې سوابقو سیستم چې په NHS کې د ګڼ شمیر کورنیو ډاکټرانو، کمیونیټي نرسانو، روغتیايي ناظرینو او نورو روغتیاپالانو لخوا کارول کیږي. GP یا کورنی ډاکټر مو د ټولو طبي معلوماتو ساتلو لومړنی ادرس دی.

موږ ستاسې د رضایت په صورت کې ستاسې معلومات له نورو صحي او ټولنیزو ادارو سره شریکوو، چې ستاسې په مراقبت کې دخیلې دي. په دې توګه به نو تاسې ته پاملرنه همږغې او ستاسې یا ستاسې د ماشوم له اړتیاوو سره ډېره مناسبه وي. تاسې حق لرئ غوښتنه وکړئ، چې د معلوماتو ځینې برخې خصوصي وساتل شي او یوازې ورته د EACH کارکوونکي لاسرسی ولري. تاسې حق لرئ د پاملرنې او روغتیا له نورو متخصصینو سره د معلوماتو شریکول رد کړئ، خو د ملي کړنلارو سره سم موږ نشو کولای د خوندیتوب معلومات پټ کړو. که موږ باور ولرو چې د معلوماتو نه شریکول زموږ د خدماتو خوندیتوب ته خطر پېښوي، په دې اړه به ستاسې سره وږغیږو.

هغه کورنۍ چې اصلي ژبه ئې انګلیسي نه وي، نو هغوی ته لیږل کېدونکي معلومات به
د ژباړي د خوندي خدماتو له لاري د هغوی د رضایت په صورت کې دوی ته د پوهاوي وړ بڼه کې ترتیب شي.

امکان لري ځیني وختونه د EACH لخوا ثالث طبي لوري یا درملیز متخصصین یا نور ترون کوونکي
یا اداري کارمندان وګمارل شي څو د EACH خدمتونو د عرضې سره مرسته وکړي.  دغو ثالثو لوریو ته
کېدای شي د EACH کارکوونکو غوندي معلوماتو ته محدود لاسرسی ورکول شي او ترون له مخې به مکلف وي، چې په هماغه
اندازه د محرمیت او خوندیتوب معیارونه عملي‌کړي.

- **د قانوني دندې پوره کول**

ځیني داسي شرایط شته چې EACH باید د قانون له مخې معلومات شریک کړي. د مثال په ډول، د خطر پر وړاندي د ماشومانو یا بالغو کسانو ساتنه؛ د محکمې د حکم پر اساس یا هم د ځانګړو ساري ناروغیو اړوند معلوماتو ورکولو لپاره. په ځینو شرایطو کې دغه کار کېدای شي ستاسې له مخکنۍ پوهې یا رضایت پرته وشي.

- **د قراردادي خدمتونو د عرضې لپاره شواهد وړاندي کول**

دلته بې‌هویته او بې‌نومه معلومات کارول کیږي، څو وښيي چې خدمات عرضه شوي دي. که د پېژندنې وړ معلومات له چا سره شریکوو، نو ددې کار تر کېدو وړاندي د اړوند شخص رضایت اخلو.

- **د پاملرنې سرویس د کیفیت څارنې لپاره**

په بې‌نومه توګه د معلوماتو راپور ورکولو له لاري د خدماتو کیفیت څارل کیږي، مثلاً پایلي، اندیښني، شکایتونه یا هم پیښې، د سرویس لاسته راوړنې یا کلینیکي تفتیش.

- **نظارت کوونکو نهادونو ته د معلوماتو ورکړې لپاره**

د Care Quality Commission په څېر د نظارت بیرونۍ اداري کولۍ شي معلومات وغواړي څو د پاملرنې سرویس د کیفیت ارزونه وکړای شي. موږ به تر معلوماتو ورکولو دمخه ستاسې اجازه واخلو.

- **د تحقيقاتو لپاره**

تحقيقات ستاسي او ستاسي د ماشوم/کورنۍ د درملني او پاملرني د بهترۍ په موخه

تر سره کيږي. پداسي حال کي چي د پلټونکو لخوا تير فعاليتونه پلټل کيږي، محققان به د کارونو کولو لپاره د نويو او مختلفو

لارو چارو په پيژندنه بوخت وي. د تحقيقاتو په موخه د ناروغ د پيژندګلوۍ اړوندو معلوماتو تر شريکولو

وړاندي به تل د رضايت غوښتنه کيږي.

- **د ماشومانو، نويو ځوانانو او کورنيو لپاره د خدماتو پلان وړاندي کولو او پلان جوړولو لپاره**

په دې برخه کي بيِ‌هويته احصائيوي معلومات او د خدماتي فعاليتونو کچه کارول کيږي څو د EACH دننه او دباندي د خدماتو د پراختيا سره مرسته وکړي، په شمول د ځايي، سيمه‌ييزو او ملي خدماتو. ددغي موخي لپاره د ناروغ د پيژندګلوۍ اړوندو معلوماتو تر کارولو وړاندي به د هغوی رضايت وغوښتل شي.

- **د EACH ټيم او په ملاتړ او پاملرنه چمتو کولو کي د نورو شريکو متخصصينو د روزني لپاره**

موږ بي‌هويته معلومات د ښوونيزو او روزنيزو موخو لپاره کاروو. ددغي موخي لپاره د پيژندګلوۍ وړ معلوماتو د کارولو په صورت کي به له وړاندي ستاسي رضايت غوښتل کيږي.

- **د کورنيو د اړتياوو او د EACH خدمتونو اړوند د پوهاوي زياتولو په موخه**

په دغو معلوماتو کي د کورنيو کيسي، تصويرونه، ږغيز او ويډيو فايلونه شامليداى شي. که له معلوماتو د ناروغ هويت معلوميده، په دي صورت کي به تل ستاسي رضايت پوښتو.

موږ د پوهاوي د زياتوالي په موخه ځيني وختونه له تولنيزو رسنيو ګټه پورته کوو او خوشحاله يو چي يو تعداد کورنۍ هم خپلي تجربي شريکوي. موږ درڅخه په درناوي غوښتنه کوو، چي په خپلو پوستونو کي د هيڅ کارمند نوم ذکر يا مينشن نکړئ.

**که غواړو د خپلو معلوماتو د کارولو پر څرنګوالي راسره وږغيږئ، مهرباني وکړئ په خپل سيمه‌ييز EACH هاسپيس کي له خدماتي مدير سره اړيکه ونيسئ.**

Mike Higgins EACH Milton 01223 815100 mike.higgins@each.org.uk Louise Gower EACH The Nook 01603 967596 louise.gower@each.org.uk Laura Jenkins EACH The Treehouse 01473 271334 laura.conti@each.org.uk

**يا د بريښناليک له لاري د EACH د معلوماتو د خونديتوب مدير سره اړيکه ونيسئ:**

DataProtectionOfficer@each.org.uk